Liwal لیوال

## لېوال پښتو او دري سیستم
## د وینډوز ایکس‌پي لپاره

# د سمبالښت بیړنی لارښود

## بیاسمون ۱,۱

یادونه: د کمپیوټر او پروګرامونو پر نومونو پوهېدلو لپاره د کتابګي پر پای کې ویپانګه وګورئ.

ټول واک لېوال لیمیټډ سره خوندي دی ۱۹۹۴-۲۰۰۵ ز. د لېوال سوادګریزه نښه، ایشیاسافټ، اېشیاټایپ، او اېشیاسافټ پښتو، دري سیستم د لېوال لیمیټډ، کابل، افغانستان سوادګریزې نښې/نومونه دي. د ټولو نورو کمپنیو او یا تولیداتو نومونه د هغوی خپلې سوادګریزې نښې دي.

# نیولیک

لومړی څپرکی ۱
سمبالښت ۱
د کلککالیو اړتیاوې ۱
د پروګرامونو اړتیاوې ۱
له سمبالښت نه وړاندې ۱

دویم څپرکی ٦
پېژندنه ٦
څنګه کار کوي؟ ٦
پښتو او دري معیاري لیکمن (کیبورډ) ۹

درېیم څپرکی ۱۰
تخنیکي مرسته ۱۰
ویپانګه ۱۱

ځپرکی

۱

سمبالښت

د لېوال اېشیاسافټ پښتو/دري سیستم د پېرودلو څخه ډېره مننه.

اړتیاوې

## کلککالیو ته اړتیا:

**-هر کمپیوټر چې وینډوز ایکس‌پي چلولای شي.**

**-لېوال اېشیاسافټ پښتو او دري سیستم د وینډوز لپاره ستاسې کمپیوټر کې هېڅ ډول بدلون ته اړتیا نه لري.**

## د پروګرامونو اړتیاوې:

**-مایکروسافټ وینډوز ایکس‌پي (د هرې ژبې بیاسمون)**

**-مایکروسافټ افېس ۲زره، ایکس‌پي، ۲۰۰۳ ګنژبی او یا نوی یا نړیوال بیاسمون**

**-چارمنتوب یا ایډمنیسټرېټیو واک**

## له سمبالښت نه وړاندې، باید چې:

i. د وینډوز د سمبالښت ټیکلی یا سیډي له ټیکلچاري څخه وباسئ.

ii. که وینډوز د نیټورک څخه سمباله شوي وي، د نیټورک تړاو وباسئ.

iii. خپل کمپیوټر بیاچالاند کړئ، د چارمنتوب یا **ایډمنیسټرېټیو واک سره وینډوز ته دننه شئ. د چارمنتوب او کاروالتوب په اړه د وینډوز کتابونه وګورئ.**

**اوس د لېوال پښتو سیستم د وینډوز ایکس‌پي لپاره ټیکلی په ټیکلچاري کې واچوئ او یو پر بل پسې لاندې لارښونو سره تګ وکړئ.**


یادونه: د لیوال سمبالنبت پروګرام به پرخپله وچلېږي، که چېرې ونه چلیده، بیا زما کمپیوټر ته غبرګټکونه وکړئ، او بیا ټیکلچاري ته ټک وکړولو سره به ټیکلچاري ته لاړ شي هلته به setup.exe وچلوئ یا به غبرګټکونه وکړئ.

کله چې تاسي setup.exe وچلوي نو کېدای شي چې لاندې پیغام راشي.





١. OK ته ټک وکړئ.


٢. کله چې تاسي OK ته ټک وکړئ، Regional and Languages Options چارکوټ یا ډیالاګ به راوټوکېږي، لکه په لاندې انځور کې چې ښودل شوی. بیا د Language ټب ته ټک وکړئ.




۳. اوس Language ټب کې "Install files for complex script and right-to-left languages (including Thai)" ☑ د "کتون نښبې" کورګي ته ټک ورکړئ، که په دغه کورګي د سمون نښه شته بيا ۲ شمېر ته لاړشئ.




۴. OK ته ټک ورکړئ، چې کله لاندي پيغام راوتوکېږي.





۵. او بيا د Advance ټب ته ټک ورکړئ، لکه څنګه چې په لاندي انځور کې ښکاري.





٦. بیا له Language for non-Unicode Programs لیستې څخه Arabic (Saudi Arabia) لکه څنګه چې پاس انځور کي ښودل شوی غوره کړئ.

٧. او Apply تڼۍ ته ټک ورکړئ.

٨. لکه په لاندي چارکوټ کي، که غوښتنه وشي چې د ویندوز د سمبالنبت ټیکلی، ټیکلچاری کي واچوئ، هغه ټیکلی چې تاسي وینډوز ورڅخه سمبال کړي، ورواچوئ، بیا OK ته ټک ورکړئ. وینډوز به د اړتیا وړ لاسوندونه کمپیوټر ته وړل پیل کړي.




۹. تاسې نه به پوښتنه وشي چې کمپیوټر مو بیا چالانده کړئ، د Yes تڼۍ ته ټک ورکړئ، چې کمپیوټر مو بیا چالانده شي.




**۱۰. له هغه ورسته چې کمپیوټر مو بیا چالانده شي، لېوال ابشیاسافټ ټیکلی په ټیکلچارۍ کې واچوئ، که د سمبالښت پروګرام پخپله ونه چلېده، نو بیا** setup.exe **له ټیکلۍ څخه وچلوئ. د پردې پرمخ لارښوني یوپربل پسې پلې کړئ. کله چې درڅخه وغواړي، کمپیوټر مو بیاچالانده کړئ. که اوس هم پر سمبالښت کې څه ستونزه لرئ، د مرستې لپاره موږ سره اړیکې ټینګې کړئ، د اړیکلو لپاره پتې د دریيم څپرکي پرپای کې ورکړل شوي.**

## پېژندنه

**لېوال اېشیاسافټ پښتو او دري سیستم**
**د وینډوز ایکس‌پي لپاره**


**لېوال اېشیاسافټ پښتو او دري سیستم د وینډوز لپاره مرستندویه پروګرام دی چې وینډوز ته د پښتو او دري لیکلو وړتیا وربښي او مایکروسافټ افېس ۲زره، ایکس‌پي، ۲۰۰۳ او یا له هغه څخه ورسته جوړشوی دې ته چمتو کوي چې پښتو او دري لپاره کار وکړي. لېوال اېشیاسافټ پښتو او دري سیستم د وینډوز ایکس‌پي په هره ژبنۍ او ګنژبنۍ بیاسمون کې اچولی شی. همدارنګه د پښتو او دري سیستم د وینډوز ایکس‌پي ډېر نور پروګرامونه هم پښتو او دري لیکلو ته چمتو کوي، تاسې کولای شی چې پښتو او دري په ورډ، ایکسل، ایکسیس، پاورپوا اینټ او په سلګونو نورو د وینډوز او د یونیکوډ پر بنسټ تیارو** پروګرامونو کې ولیکئ. د وینډوز د چاپېريال ژبه به هغه پاته کېږي چې کومه تاسې غوره کړې وي.

## څنګه کار کوي؟

**کله چې لېوال اېشیاسافټ پښتو او دري سیستم د ایکس‌پي لپاره کمپیوټر کې سمبال شي، د لاندې ۳ چارو پر ترسره کولو به تاسې په بشپړ ډول پښتو او دري لیکلای شی.**

۱. یو له پښتو او دري ته چمتو شویو پروګرامو څخه وچولوئ:
د ببلګې په ډول، مایکروسافټ ورډ وچولوئ.د ښي لورلیک Right-to-Left پاراګراف ته اوړېدلو لپاره یوه له لاندې لاربښونو څخه ترسره کړئ:

- د Formatting Toolbar څخه د ښي لورليک تنۍ ووهئ، لکه چې په تصوير کې ښودل شوي.





# پښتو سیه

- یا ښي کابو ونیسئ او بیا ښي بدلو تنۍ سره یوځای ووهئ.

> یادونه: که د ښي لورلیک ننبه نشته، بیا Start ته ټک ورکړئ. بیا All Programs ته لاړ شئ، بیا Microsoft Office ته لاړ شئ، او بیا Microsoft Office Tools او بیا Microsoft Office Language Settings غوره کړئ، بیا Arabic سره اړوند کتلننبه، ننبه کړئ، ددې پروګرام څخه ووځئ او ورډ پروګرام بیا وچلوئ.

۲. پښتو لیکبڼې یا فنټ غوره کول

(کیڼې لورته انځور وګورئ)، لیوال ایشیاټایپ پښتو او دري لیکبڼې، له راخپریدونکي لیسټ څخه او یا هم له Format/Font چارلیکي څخه Font غوره کړئ. دغه لیکبڼې د TrueType پر بنسټ جوړې شوې چې په هره اندازه کېدای شي.






۳. د پښتو او دري ليکمن يا کيبورډ غوره کول:
(کيڼ لورته انځور وګورئ)، کله چې يو پروګرام
وچلوئ، پښتو ليکلو لپاره بايد چې پښتو
ليکمن غوره کړئ، پښتو ليکمن په لاندي لارو
غوره کولای شي:

د وينډوز کيڼ لورته لاندني ګوټ کې د سيستم ټوکرى يا سيستم ټري څخه د ليکمن
نښې ته ټک ورکولو سره ليکمن غوره کړئ. يا ښى بدلو+ ښى بدل ياني
Right-Alt + Right-Shift د پښتو ليکمن غوره کولو لپاره او کيڼ بدلو + کيڼ بدل
ياني Left-Alt + Left Shift د انګرېزي (يا بلې ژبې) ته اړولو لپاره ووهئ.

د ليوال اېشيا سافټ پښتو او دري ليکمن پروګرام د هرې ژبې ليکمن سره يوځاى کار
کوي، ستاسې د اسانتيا لپاره موږ سره پر ليکمن سرېښنده راڼه توري او د پښتو او
دري لپاره ليکمن هم شته، د پوره مالوماتو لپاره
http://www.liwal.com/computers/keyboards د ويبپاڼې درک وګورئ، او يا
زموږ نژدې دفتر ته راشئ.

هيله ده چې اوس به تاسې پښتو ټايپولاى شي.

# پښتو او دري معياري ليکمن (کيبورډ)

## د ليکمن د تڼيو انځور




## د بدل سره د تڼيو انځور




## د بدلو سره د تڼيو انځور



ځپرکی

۳

# تخنیکي مرسته

**موږ سره اړیکي نیول**

**کله چې تاسې موږ سره د مرستې لپاره اړیکې نیسی، ځان ډاډمن کړئ چې:**

- ✓ **تاسې خپل کمپیوټر ته نژدې یاست**
- ✓ **د کمپیوټر او پروګرام سره راغلي کتابګیو ته هم ترلاسی لري.**
- ✓ **د لېوال اېشیاسافټ پښتو او دري سیستم بیاسمون شمېر، چې راغلي لاسوند پر مخ به لیکل شوي وي هم لري.**
- ✓ **لېوال پیداوارو پرلپسې ګڼه** (Serial Number)**، چې د ټیکلۍ پر پوښ سرېښ ده هم لري.**
- ✓ **د کمپیوټر ډول، د چا جوړ دی، د نیټورک کارډ او نورو کارډونو په هکله مالومات هم لري.**
- ✓ **چلیز سیستم بیاسمون چې تاسې یې کاروی.**
- ✓ د هر **پیغام** کټ مټ لیک چې پر پرده راغلی وو، هم مو ځان سره لیکلی دی.
- ✓ پوره مالومات چې څه وشول، تاسې څه کول چې ستونزې سره مخ شوی.

همدارنګه تاسې کولای شي چې زموږ پر وېبپاڼه [www.liwal.com/support](http://www.liwal.com/support) درک وګورئ، دلته هغه مالومات وي چې کېدای شي ستاسې ستونزه پرې حل شي.

یا پر [support@liwal.com](mailto:support@liwal.com) برېښلیک راواستوئ.

| | |
|---|---|
| د مرستې برېښلیک support@liwal.com | لېوال لیمټډ |
| د نورو مالوماتو برېښلیک: info@liwal.com | ۱ مانې، کابل هاوس، |
| وېبپاڼه: http://www.liwal.com | صدارت سړک، کابل |
| ټلیفون: ۰۰۹۳-(۰)۷۰-۲۸۱۳۰۹ | افغانستان. |
| ټلیفون: ۰۰۹۳-(۰)۷۹-۲۰۳۵۳۴ | |

# ويپانګه

ټيکلی = CD

ټيکلچاري = CD-Drive

ککوړی = Disk

ککوړچاری = Disk Drive

چارکوټ = Dialog

راټوکېدل = Popup

ټب = Tab

نښه = Mark

کتلنښه = Check Mark

مرستندويه پروګرام = Add-On

ښي لورليک =Right-to-Left

کيڼ لورليک =Left-to-Right

راخپرېدونکي = Drop Down

درک = Link

چارمنتوب = Administrative Rights

کارمنتوب = User Rights

کورګی = Box

ګنژبې =Multilingual

ژبتی =Language version

چاپېريال =Interface

ليکبڼ =Font

ليکمن =Keyboard